FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

# کرونا وبا ناروغي: د افغانستان اقتصادي پایښت ته جدي ګواښ

(په هرات، بامیان، بلخ او کندهار کې د کرونا د ناوره پایلو راپور)

# لړلیک

مخکینی خبرې ............ ۱
کرونا ناروغي ............ ۳
هرات ............ ۵
په هرات کې د کرونا مخنیوی ............ ۵
په هرات کې د کرونا اقتصادي زیانونه ............ ۶
په هرات کې د کرونا ټولنیز زیانونه ............ ۶
کرونا او په هرات کې یې امنیتي پایلې ............ ۶
بامیان ............ ۷
په بامیانو کې د کډوالو حالت ............ ۷
په بامیانو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی ............ ۸
په بامیانو کې دعامې روغتیا ستونزې ............ ۸
کرونا او په بامیانو کې ناامني ............ ۸
بلخ ............ ۹
کرونا او په بلخ کې د عامې روغتیا ستونزې ............ ۹
کرونا او د بلخ بې ثباته اقتصاد ............ ۹
د کرونا بحران او د کډوالو بېرته راستنېدنه ............ ۱۰
د بلخ پر سوداگرو ښځو د کرونا ناوړه اغېزې ............ ۱۰
کندهار ............ ۱۱
قرنطین او په کندهار کې کورنی تاوتریخوالی ............ ۱۱
د افغانستان بډایه معدني سرچینې او د کندهار اقتصادي ستونزې ............ ۱۲
کرونا او د کندهار پر عامه روغتیا یې اغېزې ............ ۱۲
له کرونا وروسته د کندهار د صنعت کارو ښځو حالت ............ ۱۲
پایله: ............ ۱۳

## مخکینۍ خبرې

د ۲۰۱۹م کال په ورستیو کې د چین په ووهان ښار کې د کرونا ساري ناروغۍ چټک خپرېدل، ټول نړیوال له وېرې او وحشت سره مخ کړل. دغه ناروغي، چې ویل کېږي له ژویو څخه انسان ته انتقال شوې په اسانۍ له یوه انسان څخه بل ته انتقالیږي. دغه ساري ناروغي د نورو ناروغیو په پرتله د انسانانو تر منځ ژر انتقالیږي. کرونا ویروس په څو میاشتو کې یوه نړیواله وبا شوه، دغه راز له انساني تلفاتو ورهاخوا (چې تر اوسه کنټرول شوي هم نه دي) د دغې ناروغۍ بله منفي پایله دا ده، چې د نړۍ ټول هېوادونه یې اغېزمن کړي او ناوړه اقتصادي اثر یې پرې غوړولی دی. د کرونا ویروس پراخېدل نړیوال اقتصاد له رکود سره مخ کړی او اقتصادي فعالیتونه یې په ټپه درولي او بې کاري ورسره زیاته شوې ده. د کرونا ویروس اقتصادي او ټولنېزې منفي اغېزې ټولشموله دي. همدارنګه مخ پر ودې او فقیرو هېوادونو کې د یاد ویروس خپرېدل تر ټولو زیاتې ناوړې پایلې درلودې.

زموږ هېواد افغانستان له دوو اړخونو د کرونا ویروس له امله زیانمن دی.

لومړی دا چې دغه هېواد د نړیوالې ټولنې د یوه غړي په توګه د نورو هېوادونو په څېر له کرونا زیانمن شوی دی. دویم دا چې افغانستان یو فقیر او ډېر نفوس لرونکی هېواد دی، خلک یې د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او د نورو هېوادونو په پرتله کرونا ډېر زیانمن کړی دی. څو میاشتې قرنطین او د لومړنیو اړینو توکو د نرخ لوړېدل، د هېواد ډېری وګړي، چې په ورځنۍ مزدورۍ چلېږي، په لوړه کچه زیانمن کړل.

که څه هم دولت د کرونا ویروس د مخنیوي او له بېکاره او غریبو خلکو سره څېنې برنامې په نظر کې ونیولې، خو د اقتصادي او مدیریتي ضعف او د اړمنو کسانو زیاتوالی د دې لامل شو چې د دولت وقایوي برنامې او مرستې ګټورې تمامې نشي.

دغه راز یاد ویروس د هېواد په کمزوري او بې ثباته اقتصاد منفي اثر کړی دی. د دې لپاره چې د هېواد اقتصادي ظرفیت لوړ، باثباته او د تولیداتو کچه یې لوړه شي او ورسره د خلکو اړتیاوې پوره شي. په دې برخه کې FES دفتر په څو ولایتونو (هرات، بلخ، بامیان، او کندهار) کې سروې ترسره کړې چې راپور یې قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

## کرونا ناروغي

کرونا ناروغي چې رسمي نوم یې کوویډ-۱۹ (COVID-19) دی، د کرونا ویروس له کورنۍ څخه یو ویروس دی. دغه ډله ویروسونه له عادي زکام څخه نیولې تر سختو ناروغیو لکه سارس، مرس او د کوویډ-۱۹ لامل ګرځي. د کرونا ویروس کورنۍ په ۱۹۶۰م کال کې وپېژندل شوه. دغه ویروس په طبیعي ډول په تي لرونکو ژویو او مرغانو کې پیدا کېږي. له دغې ډلې ویروسونو تر اوسه اووه ډوله پېژندل شوي دي. وروستۍ نمونه یې کرونا ویروس (Coronaviruses) و، چې د ۲۰۱۹م کال، د ډسمبر په میاشت کې د چین په ووهان ښار کې خپور شو، له کمې مودې وروسته نړیواله وبا شوه او نړۍ یې له سترو بحرانو سره مخ کړه. په تېرو ۲۰ کلونو کې درې ډوله کرونا ویروس انسان ته انتقال شوی دی. په ۲۰۰۳م کال کې په چین کې سارس ناروغي، چې شاید له اسمان څکالي څخه انسان ته انتقال شوې وي، خپور او د سارس په نامه په یوه نړیواله وبا بدل شو. دغې ناروغۍ اته سوه کسان ووژل. دویم ډول یې په ۲۰۱۲م کال کې په سعودي عربستان کې خپور شو، چې ۸۵۸ کسه یې ووژل. دریېم ډول یې د ۲۰۱۹م کال په ورستیو کې په چین هېواد کې وپېژندل شو دغه ویروس هم په چټکۍ سره په نړیواله وبا بدل شو.

کرونا ویروس چې په کوویډ-۱۹ مشهور دی په ټوله نړۍ کې په چټکۍ خپور شو. د چین ووهان ښار چې د ویروس لومړنی محل و، د وقایوي تدابیرو، قرنطین او سالم مدیریت سره وتوانېد، چې د چین نورو ښارونو ته ویروس خپور نه شي او په څو میاشتو کې ووهان هم له قرنطین بهر شو. خو د دغه ویروس خپرېدل د نړۍ نورو هېوادونو ته د دې لامل شو، چې پر ویروس د اخته کېدو او مړینې کچه دوام ولري.

زموږ هېواد ته کرونا ویروس له ایران څخه د ۲۰۲۰م کال د فبرورۍ په میاشت کې کډوالو او راستنېدونکو راوړ. هرات چې له ایران سره ګډه پوله لري او د اسلام قلعې سرحدي بندر په هېواد کې د کرونا اصلي محل و. د کرونا له وېرې د کډوالو بیرته راستنېدل د دې لامل شول، چې ویروس په هېواد کې چټک خپور شو او ژر یې پرمختګ وکړ.

کابل د افغانستان دویم ښار و، چې د کرونا ویروس ناروغان هره ورځ پکې زیاتېدل او په کمه موده کې د نورو ځایونو په پرتله د کرونا ویروس مرګ ژوبله پکې ډېره شوه.

دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال د کرونا ویروس د پرمختګ او مړینې مرکزونه، د امریکا متحده ایالات، اروپایي هېوادونه او برازیل دي. د تازه شمېرو له مخې په کوویډ-۱۹ تر پنځوسو میلیونو ډېر کسان اخته شوي، چې شاوخوا تر یو میلیون ډېر کسان یې وژلي دي. د کارپوهانو له نظره په ټوله نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر، له رسمي شمېرو دوه او درې چنده لوړ دی.

## هرات

هـرات د افغانسـتان لوېديـځ ولایـت دی او لـه کابـل وروسـته پـه هېـواد کـې، ډېـر نفـوس لـري. همدارنګـه لـه کابـل، بلـخ او کندهـار سره د افغانسـتان څلـورم لـوی ولایـت دی. د هـرات مسـاحت ۱۸۲ کیلـو مـتره مربـع / ۷۰ مایلـه دی او نفـوس یـې د احصایـې د شـمېرو لـه مخـې دوه میلیونـه پنځـه نـوي زره یـو سـلو اوولـس (۲،۹۵،۱۱۷) تنـه ښـودل شـوی دی.



هـرات د کرونـا ویـروس لومړنـی قربانـي و او لومړنـی پېښـه پـه دغـه ولایـت کـې د وحیدالله پـه نـوم، چـې ۳۵ کلـن و، د ۱۳۹۸ لمریـز کال د حـوت پـه پنځمـه، چـې د ۲۰۲۰م کال د فـبروري لـه ۲۵ مـې سره سـمون خـوري، ثبـت شـوه. پـه هېـواد کـې د دغـه ویـروس د خپرېـدو لامـل افغـان کډوال وو، چـې پـه دوو میاشـتو کـې څـه کـم ۲سـوه زره د ایـران لـه پولـې څخـه افغانسـتان تـه راواوښـتل. وروسـته دغـه ناروغـي ټولـو ولایتـو تـه خپـره شـوه. د هـرات د عامـې روغتیـا د راپـور لـه مخـې پـه دغـه ویـروس ککړ کسـان د ۱۳۹۹لمریـز کال د لـړم تـر ۲۲مـې، څـه کـم ۷۲۳۶ تنـه ثبـت شـوي دي. پـه دغـه شـمېرو کـې ۳۹۳۱ سـړي او ۳۳۰۵ ښـځې شـاملې دي. همدارنګـه ۲۶۴ ناروغـان چـې ۱۸۵ سـړي او ۷۹ ښـځې دي د کرونـا لـه املـه لـه منځـه تللـي دي.




| | د ښځو د مړینې امار | د نارینـه وو د مړینې امار | د مړینو امار | مثبتې پېښې |
|---|---|---|---|---|
| Series1 | 79 | 185 | 264 | 7236 |

دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې پـه هـرات کـې ۳۸،۷ سـلنه خلکـو کرونـا تـه ماتـې ورکـړې، خـو ۶۰ سـلنه لا هـم د دغـه وژونکـي ویـروس لـه ګـوابښ سره مـخ دي.[۱]

کـه افغان دولـت پـه لومړیـو کـې کـډوال پـه سرحـد کـې قرنطین کـړي وای، پـه لـږو امکاناتـو یـې بحران کنټرولولای شـوای. خـو هغـه وخـت د دولـت مشران پـه سیاسي لانجـو کـې ښـکېل وو او تمرکـز یـې د ټاکنـو اړونـد موضوعاتـو بانـدې و.

## په هرات کې د کرونا مخنیوی

### په هرات کې کرونا دوه ډوله کنټرولېدله:

۱- د محدودیتونو لګول (قرنطین)

۲- د ناروغانو درملنه

پـه هـرات کـې قرنطین خلکـو عملي نـه کـړ او د ناروغانو لپاره کافي صحـي وسـایل هـم نـه وو. لـه دغـه ولایـت سره دولـت د کرونـا د مبـارزې پـه موخـه ۴سـوه میلیونـه افغانـی بودیجـه وټاکلـه، چـې پـه ۵ سـوه ناروغانـو ولګـول شـوه او پـه پاتـې پیسـو اړمنـو کسـانو تـه خـواړه او نـور خـوړو توکـي وېـړل شـول. د غذایـي توکـو د وېـش پـر مهـال فسـاد بلـه غمیـزه شـوه، چـې د هـرات خلـک یـې ځـورول. همدارنګـه پانګوالـو د دوو نیـم میلیـون افغانیـو پـه لګښـت د خـوړو توکـي ووېشـل، تـر څـو لـوږه تـر یـو بریـده راټیټـه کـړي.




[۱] محمد رفیق شیرزی د هرات د عامې روغتیا ویاند

## په هرات کې د کرونا اقتصادي زیانونه

کرونا هرات ولایت ته اقتصادي ستونزې هم پېښې کړې، کار او بازار په ټپه ودرېد، چې له امله یې خلکو ورځنی کار له لاسه ورکړ. دغه راز ۷ زره ښوونکي او د پوهنې کارکوونکي د قرنطین په موده کې د تنخوا د بندېدو له امله، له ناوړه مالي حالت سره مخ شول. د ښوونکو تنخوا، چې تر یوې کچې یې د هغوی د ژوند ستونزې حل کولې، هغه یې هم له لاسه ورکړ. بېکارۍ او د تنخوا له لاسه ورکولو، پر هراتیانو رواني فشار، لوږه، د لمنځه تللو وېره او نا امیدي تحمیل کړه. قرنطین په هرات کې کارکوونکي په کور کېنول او فابرېکې د خامو موادو د نشت له امله له فعالیت ولوېدې، ځکه پولې وتړل شوې او دغه فابریکو ته لوی مالي زیانونه واوښتل، چې څه کم ۴۰ فابریکې په دغه ولایت کې له فعالیت ولوېدې او کارکوونکي یې رخصت شول.[1]




ډېری فابرېکې او کارکوونکي په خصوصي سکتور پورې اړوند وو. دغه راز پانګوالې مېرمنې هم له کرونا څخه په امن پاتې نه شوې، کار یې ودرېد او لوی مالي زیان یې وکړ.

## په هرات کې د کرونا ټولنیز زیانونه

په هرات کې د کرونا د خپرېدو پر وخت کورنی تاوتریخوالی لوړ شو. لامل یې هم سړي وو، چې د کرونا له امله بېکاره شوي وو. په هرات کې ځینو مېرمنو ویلي، چې د قرنطین پر مهال مجبوره وې چې په کور کې ساعتونه د کور له سړیو سره پاتې شي او یو ډول کورنی تاوتریخوالی ووینې.[2]

له کورني تاوتریخوالي سره سره، کرونا د ښځو نسبتاً کمزوري اقتصاد ته جدي ستونزې ورسولې او دغه ویروس نوې ستونزې د هرات د ښځو په پخوانیو ستونزو وراضافه کړې.

## کرونا او په هرات کې یې امنیتي پایلې

کله چې په هرات کې قرنطین وضع شو، فقر او بېکاري هم ډېره شوه، خلک زیانمن شول او د ناامنی لامل شو. فقر او بېکاري په هرات کې د جنایي جرمونه اصلي لاملونه دي. دغه راز د کرونا له وېرې د سلګونه بندیانو له خوشي کېدو سره سم، جرمونه زیات شول. د کډوالو راستنېدنې هم د ناامنی ګراف لوړ کړ. ناامني د هرات د خلکو لپاره بله وېره وه، چې له هغې سره لاس او ګرېوان وو. تر اوسه هم د هرات خلک له دغې ستونزې شکایت لري او هره شېبه یې ځان او مال له خطر سره مخ دي. په هېواد کې جنایي جرمونه څه نوې خبره نه ده؛ خو په دې وروستیو کې مرکز او ولایات د دغو جرمونو له بې مخینو قضیو سره مخ دي. که څه هم دولت د جرمونو د مخنیوي په موخه ځینې کړنې ترسره کړې، خو تر اوسه یې مثبته پایله نه ده ورکړې او د تروریستي بریدونو په شمول، جنایي جرمونه هم له خلکو قرباني اخلي.

۱ حمیدالله خادم د هرات د صنایع خونې رییس

۲ فاطمه حبیبي د هرات ولایت استوګنه

## باميان

باميان د افغانستان پـه مركـزي برخـه كـې يـو تاريخـي ولايـت دی، چې مساحت يې ۳۵کيلو متره مربع/ ۱۴ مايله دی. دغه ولايت لـه سل زره (۱۰۰زره) نفـري نفـوس سره، د پلازمېنې پـه ۲۴۰ كيلـو مـترى كـې پـروت دی. باميـان چـې كرونـا زيانمـن كـړی، د يـوه كنفرانـس پـه تـرڅ كـې د سـولې د پروسـې دربـدو، كرونـا او پـه اقتصـاد يـې د نـاوړه اغېـزو پـه اړه خـبرې اتـرې وكـړې.




جګـړه او ناروغـي پـه هېـواد كـې دوه شـومې پديـدې دي، چې خلـك يـې زيانمـن كـړي دي. پـه تېـرو ۱۸كلونـو كـې ښـه پرمختـګ شـوى، خـو جګـړه منفي او وېجاړونكي اغېـزې لري. د كرونا د خپرېـدو پـر مهـال باميان ډېر زيانمن شـو. پـه دغه ولايـت كې كرنـه لـه ډېرو سـتونزو سره مـخ شـوه او بزګرانـو پـه دغـه برخـه كـې كـم تمايـل درلـود. كرونا چې پـه دغه ولايـت كـې يـې ورځنـى كار لـه سـتونزو سره مـخ كـړى و، خلـك يـې غمجـن كـړل. ځينـو مبتكـرو ښـځو د ماسـك پـه توليد سره ځان تـه كاري فرصـت پيداكـړ. خـو خرڅـلاو يـې كـم و او اړتيـاوې يـې نـه پـوره كولـې. كـه پـه يخنـى كـې كرونـا بيـا خپـره شي او د باميانـو خلكـو تـه پـه مناسـب وخـت كـې امكانـات ور نكـړل شي، لـه شـك پرتـه چې لـه جـدي ګـواښ سره بـه مـخ شي.




## په باميانو كې د كډوالو حالت

د ايـران لخـوا د افغـان كډوالـو پـر مـخ د سرحـد بنـدول پـر كرونـا سربېـره بلـه سـتونزه وه. ايـران پـه ۱۳۹۷ لمريـز كال كـې افغـان كډوالـو تـه اقامـه وركـړې وه، خـو د قرنطيـن پـر مهـال د يـوې ورځـې پـه تېرېـدو سره ۱۰۰ يـورو جريمـه كېـدل. ايـران پـه دغـه غيـر عادلانـه عمـل سره د دې لامـل شـو، چـې زرګونـه پـه كرونـا اختـه كـډوال هېـواد تـه راسـتانه شي. افغـان مسـوولينو هـم پـه پولـه كـې لـه كډوالـو سره نـاوړه چلنـد كاوه. پـه كـور دننـه او بهـر بيـكاري، دسـتونزو، ناامنـى، فقـر او نېشـه يـې توكـو د اسـتعمال سـبب شـوې ده. پـه باميانـو كـې ۹۸۱ راسـتنېدونكي كورنـۍ او څـه كـم ۴۶۸۰ داخلـي بې ځايـه شـوي ژونـد كـوي.



پـه دغـه ولايـت كـې AKHA موسيسـې يـوازې ۴۰ كورنيـو تـه غيـر خوراكـي توكـي ووېشـل؛ پـه داسـې حـال كـې چـې د باميانـو د خلكـو اصلـي اړتيـا پـه لومـړي سر كـې خوراكـي توكـي وو. پـه دغـه ولايـت كـې د برېښـنا نشـت بلـه سـتونزه وه، چـې لـه كرونـا سره يـې تـر يـوې كچـې مبـارزه سـخته كـړه. UNHCR موسيسـې سـل بسـتې سـولر لـه خلكـو سره مرسـته وكـړه. خـو تـر اوسـه لا هـم پـه باميانـو كـې د برېښـنا سـتونزه پـه بنسـتيزه ډول نـه ده حـل

شوې او د خلکو ستونزې یې ډېرې کړې دي.[1]

## په بامیانو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی

کرونا په بامیانو کې کورنی تاوتریخوالی ډېر کړ. په ۱۳۸۹المریز کال کې د کورني تاوتریخوالي یوه پېښه ثبت شوې وه او په ۱۳۹۹ کال کې بامیان د تاوتریخوالي ۱۶۰ پېښو شاهد وو. له شک پرته د کورني تاوتریخوالي دغه شمېرې په یوه کال کې لوړ ګراف ښیي. په دغه ولایت کې په کم عمر کې اجباري ودونه او د انجونو چوپاني، د فقر ښکارندويي کوي. همدارنګه له کوچنیانو سره تاوتریخوالی، اجباري کار، د لرګیو ټولول، مالداري او نور درانه کارونه د بامیانو د بې ثباته اقتصاد تریخ حکایت کوي. مذهبي طبقې چې په کلیو کې نفوذ لري، په دغه برخه کې عامه پوهاوی کوي، څو د ښځو او ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی پای ته ورسېږي. په افغانستان په ځانګړي ډول په بامیانو کې تاوتریخوالی په فقر، بېکارۍ او بې ثباته اقتصاد پورې تړلی دی.که څه هم مرکزي دولت څو څو ځلې ژمنه کړې، چې د ولایتونو ستونزو ته نور د پای ټکی ږدي، خو تر اوسه څه نه دي شوي او هره ورځ د ولایتونو ستونزې لا ډېرېږي.




## په بامیانو کې دعامې روغتیا ستونزې

د کرونا ویروس په خپرېدو سره په بامیانو کې د کووید-۱۹ مرکز او ۱۵ بستریز روغتون جوړ شو او د دولت له بودیجې څخه دوه سوه زره افغانۍ په دغه ولایت کې په عامه روغتیا ولګېدې. وروسته ۴۰بستریز روغتون په مرکز او ۱۵ بستریزه په ولسوالیو کې جوړ شول. دا په داسې حال کې ده، چې په بامیانو کې مثبتې پېښې ۹۳۱ ثبت شوې او منفې پېښې ۲۲۹۱ نقل شوې دي. له دغې ډلې ۸۵۸ تنه بیرته روغ شوي او ۱۷ نور د کرونا له امله مړه شوي دي. د اکسیجن او نورو صحي اړتیاوو د نشت، له امله د کرونا بحران زغمل د بامیانو د خلکو لپاره سخت شو، وروسته ۱۷ د اکسیجن ماشینونه، چې درې یې د دوو ناروغانو لپاره استفاده کېدل، د بامیانو د عامې روغتیا په واک کې ورکړل شول. د خلکو لپاره د عامه پوهاوي نشت، د صحي وسایلو او پیسو کمښت، د بامیانیانو لپاره پر پخوانیو ستونزو نوې ستونزې ور زیاتې شوې او په دغه ولایت کې یې د عامې روغتیا حالت ګډوډ او له ډېرو ستونزو سره مخ کړ.

## کرونا او په بامیانو کې ناامني

بامیان یو له هغو ولایتو څخه دی، چې ډېری استوګن یې په ایران کې د کار او پیسو ګټلو په موخه کډوال شوي دي. بامیاني کډوال د کرونا ویروس له پراخېدو سره سم په اجباري ډول له ایران څخه وتو ته اړ شول. قرنطین په بامیانو کې کارکوونکي بېکاره کړل او همدارنګه له بهر راغلي کارکوونکي هم ورزیات شول. افغانستان چې سنتي هېواد دی، د قرنطین پر مهال تاوتریخوالی پکې لوړ شو. بامیان هغه ولایت و، چې په شپږو میاشتو کې ټولنیزې او کورنۍ ستونزې پکې لوړې شوې او قربانیان یې هم ډېری ماشومان او ښځې وې. همدارنګه د کرونا له خپرېدو او دولتي ادارو له بندېدو سره سم په دغه ولایت کې د خلکو او دولت ورځنۍ چارې بې نظمه شوې او میدان خلافکاره ډلو ته خلاص شو، د ولایت په کچه جنایي او ټولنیز جرمونه ډېر شول. اقتصادي، صحي او ټولنیز بحران، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی او ناامني د بامیانیانو د ژوند کړۍ تنګه کړه او د کرونا په ګډون له روحي او رواني ناروغیو سره هم لاس او ګرېوان شول.

۱ نجیبه معصومي په بامیانو کې د کډوالو چارو رییسه

## بلخ

بلـخ؛ چـې مرکـز یــې مـزار شریـف دی، پـه شـمال کـې د افغانسـتان تاریخـي ولایـت دی. مسـاحت یـې ۱۷،۲۴۹ کیلـو متـره مربـع/ ۶۲۰۰ مایلـه دی. د دغـه ولایـت نفـوس د ۲۰۱۲م کال د سروې لـه مخـې یـو میلیون دوه لکـه څلوېښت زره او سل نفـره ښـودل شـوی دی.




د کرونـا لـه خپرېـدو او قرنطیـن وضـع کولـو سره، پـه بلـخ کـې فابرېکـې او سـوداګري ودرېـده. فقـر او روحـي سـتونزې پـه بلـخ کـې ډېرې شـوې او د دغـه ولایـت خلـک د سـتونزو لـه کبلـه، د کرونـا لـه دویمـې څپـې لا هـم وېـره لـري. د بلـخ ښـاریان او چارواکـو پـه لومـړي سر کـې سـوله وغوښـته. څکـه سـوله لـه باثباتـه اقتصـاد سره مرسـته کـوي. دغـه راز فقـر، خـواره، پاکـې اوبـه، سیاسـت، تولنیـز عدالـت او ښـوونیز کیفیـت د پایـداره پرمختـګ موخـې دي. لـه سـولې پرتـه دغـو موخـو تـه رسـېدل ممکـن نـه دي. کرونـا پـه بلـخ کـې خصوصـي سـکتور تـه هـم قـوي ضربـه ورکـړه، چـې پـه پایلـه کـې یـې ۱۶زره ښـوونځي او ۱۳۸د لـوړو زدکـړو نهادونـه وتـړل شـول.




د قرنطیـن پـر مهـال دغـې پروسـې تقریبـاً ۹میلیونـه زده کونکـي، د هېـواد پـه کچـه لـه زده کـړو بـې برخـې کـړل او ۲ سـوه زره ښـوونکي پـه کـور شـول، چـې ډېری یـې پـه خصوصـي سـکتور پـورې اړه لـري.[۱]

## کرونا او په بلخ کې د عامې روغتیا ستونزې

د کرونـا د خپرېـدو پـه لومړیـو ورځـو کـې د ډاکټرانـو لپـاره، د محافظتـي او تشـخیصي کیټونـو نشـت، د بلـخ د عامـې روغتیـا لـه اسـاسي سـتونزو څخـه ذکـر شـوې دي. دا پـه داسـې حـال کـې ده، چـې پـه لومړیـو کـې روغتـون هـم نـه و، چـې پـه وخـت ناروغـان وپېژنـي او درملنـه یـې وکـړي، خـو وروسـته بیـا جـوړ شـو. پـه دغـه ولایـت کـې څـه مـوده مخکـې ۳۶۸۷ نمونـې راټولـې شـوې وې، چـې ۲۰۷۸ یـې مثبتـې وې. کرونـا ویـروس پـه بلـخ کـې ۸۳ تنـه ووژل او ۱۳۰۷ تنـه بیرتـه روغ شـول.[۲]




## کرونا او د بلخ بې ثباته اقتصاد

پـه هېـواد کـې د صحـي او اقتصـادي سرچینـو نـه رغونـه د دې لامـل شـوه، چـې فقـر لـه ۵۵،۴ سـلنې څخـه ۶۷ سـلنې تـه لـوړ شي. کـه دولـت او بهرنـي موسیسـې لاس پـکار نـشي، بېکاري بـه لـه ۲۴ سـلنې څخـه ۴۴ سـلنې تـه لـوړه شي. نـو ضرور بـه د بلـخ پـر خلکـو نـاوړه اغېـزه وکـړي.

همدارنګـه پـه بلـخ کـې لـه ۴۰۰ فابریکـو څخـه ۱۰یـې فعالیـت لـري او پـه دغـه برخـه کـې ډېـر زیـان خصوصـي سـکتور تـه رسـېدلی، چـې ۴۱ سـلنه خلـک پکـې فعالیـت کـوي.[۳]

---

۱ جمشید فردي د پوهنتون استاد او مدني فعال
۲ ډاکټر غوث انوري په بلخ کې د ابو سینا روغتون امر
۳ جنت ګل شرافت د بلخ د اقتصاد رییس

دا په داسې حال کې ده، چې له دې ډلې یوازې د کرنې سکتور لږ زیان لیدلی، که څه هم په کال کې ۵۰۰ زره کاریګر ټولنې ته ورانده کېږي، خو د جذب زمینه یې نه ده برابره. په ځینو هېوادونو کې د کار لپاره بشري سرچینې اساسي ستونزه ده. خو افغانستان کافي بشري ځواک لري. د افغانستان معدني سرچینې هم ۳ ټریلیونه ډالره ښودل شوې، په داسې حال کې چې په دغه هېواد کې ۷۵ سلنه خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي.[۱]




## د کرونا بحران او د کډوالو بېرته راستنېدنه

د قرنطین پر مهال کله چې کډوال له ایران او پاکستان څخه راستانه شول، نو بېکاري او فقر ډېر شو. د کاریګرو بیمه، د کاریګرو لپاره د معیارونو ټاکل او د کار قانون ته بیاکتنه کولی شي، چې تر یوه بریده په هېواد کې د کډوالو ستونزې حل کړي. تقریباً درې میلیونه افغان کډوال ګنو هېوادونو ته مهاجر شوي او تقریباً درې میلیونه نورې کورنۍ بې ځایه شوي دي. په افغانستان کې ناوړه امنیتي او اقتصادي حالت د دې لامل شوي، چې شپږ میلیونه کسان، چې تقریباً د دغه هېواد ۱۶ سلنه نفوس دی، په کور دننه یا بهر کډوال بلل کېږي.[۲]

په افغانستان کې کډوالي هغه پدیده ده، چې د جګړو، بېکارۍ، فقر او لوږې له امله د دغه هېواد د خلکو لپاره په لویه کورنۍ، سیمه ییزه او نړیوالې ستونزې بدله شوې ده. افغان کډوال، چې له هېوادونو راستنېږي، په هېواد کې د منظم پلان د نشت له امله ځوریږي؛ ځینې په مخدره توکو روږدي کېږي او له ځینو هم مجرمین جوړیږي.



## د بلخ پر سوداګرو ښځو د کرونا ناوړه اغېزې

په بلخ کې سوداګرو ښځو له کرونا مخکې پور اخیستی و. کله چې قرنطین وضع شو، ټولې ناهیلې شوې او لویه مالي او روحي ضربه یې ولیدله. دولت هم د بلخ د سوداګرو ښځو لپاره حل لاره نه لرله. که څه هم د ښځو د سوداګرۍ خونې، د دغې ستونزې د حل په موخه د ښځو د ظرفیت لوړونې لپاره له موسیسو سره همغږي کړې، خو لا هم د دغه ولایت د سوداګرو ښځو ستونزې بنیادي نه دي حل شوې.[۳]

۱ -https://avapress.com/fa/41523/75درصد-افغان-ها-زیرخط-فقر-زندگي-مي-کنند
۲ https://www.bbc.com/persian/afghanistan-44532137
۳ شکیبا شکیب د ښځو د سوداګرۍ خونې رییسه

## کندهار

کندهار د افغانستان جنوبي او درېيم ډېر نفوس لرونکی ولایت دی. د دغه ولایت نفوس د ۲۰۱۵م کال د شمېرو له مخې تقریباً پنځه لکه و پنځه اویا زره او یو سلو اتلس (۵۵۷،۱۱۸) تنه ښودل شوی دی.[۱]




کرونا د کندهار خلکو ته هر اړخیزې ستونزې واړولې. څه موده مخکې په دغه ولایت کې، مثبتې پېښې ۱۷۵۱وې، چې له دې ډلې ۳۷کسان مړه او ۱۶۱۵تنه بیرته روغ شوي دي. همدارنګه په دغه ولایت کې قرنطین هغه وخت وضع شو، چې اوبه له ورخ تېرې وې. د کندهار د خلکو په ګډون د څو ولایتونو خلک په دغه ولایت کې استوګن دي. په کندهار کې له همدې امله د بېکارۍ کچه یوه لویه ستونزه ده. د کرونا خپرېدل او قرنطین د دې لامل شو، چې خلک ورځنۍ کار له لاسه ورکړي. په دغه ولایت کې ډېری خلک ورځنۍ کار کوي او د کار دې له لاسه ورکولو له امله فقر او لوږه ډېره شوه. په کندهار کې کارګر خلک تر هر چا زیاتې همکارۍ ته اړتیا لري. په داسې حال کې چې له دغې زیارکښې طبقې سره رښتینې همکاري نه کېږي او له همدې امله یې په حکومت او موسیسو خپل باور بایللی دی.

دا په داسې حال کې ده چې NRC موسیسې ۹ زره کسه سروې کړې وو، چې تر اوسه مرسته نه ده ورسره شوې همدارنګه یوازې UNHCR موسیسې ډېره کمه مرسته ورسره کړې، چې د کندهار خلکو ته کافي نه ده؛ ځکه زیانمن کسان په دغه ولایت کې ډېر دي او هر اړخیزو مرستو ته اړتیا لري.




### قرنطین او په کندهار کې کورنۍ تاوتریخوالی

**په کندهار کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي دوه لاملونه لرل:**

۱- د سړیو او ماشومانو په کور پاتې کېدل.

۲- د خوراکي توکو نشت.

دغه حالت کورنۍ ډېرې وخپلې او په کندهار کې ټولنیز او کورنۍ بحران رامنځته شو. له دې سره رواني، جسمي، روحي او مغزي ناروغیو، د کرونا له بحران او فقر سره یو ځای د کندهار د خلکو په نسبتاً آرامه ژوند سیوری وغوړاوه. سوادګرو ښځو خپل کارونه له لاسه ورکړل. یوازینی ارګان چې د ښځو او کورنۍ تاوتریخوالي د مخنیوي په موخه یې له ښځو سره د عامه پوهاوي او صابون وېشلو په برخه کې مرسته وکړه، یونیسف و، خو مرستې یې کمې وې. د دولت له ادرسه بله همکاري، د وچې ډوډۍ وېش و، چې یوازې د ژوندي پاتې کېدو هیله یې پیدا کړه.




۱ https://fa.wikipedia.org/wiki/قندهار

«که یو ځل بیا په کندهار کې داسې غمجنې پېښې تکرار شي، نو له ټولو نړیوالو موسیسو څخه مو هیله دا ده، چې موږ یوازې پرېنږدي او همکاري وکړي.»[1]

## د افغانستان بډایه معدني سرچینې او د کندهار اقتصادي ستونزې

په کندهار کې د کرونا د خپرېدو پر مهال ۳۰ سلنه عایدات راټیټ شول، چې د یوه هېواد لپاره لویه شمېره ده.[2]

همدارنګه په دغه ولایت کې د اقتصاد اصلي ستنې کرنه او صنعت دی، چې باید د کرنې په عصري کولو یې فکر وشي. دغه راز زموږ معدني مواد بهرنیو هېوادونو ته قاچاق کېږي. د افغانستان د معدني سرچینو په قاچاق کې، کورني او بهرني قاچاق بران ونډه لري.




که دغه منابې په منظم ډول وایستل شي، افغانستان د باثباته او په ځان بسیا اقتصاد خاوند کېږي. همدارنګه د کار لپاره برابر کسان، چې ۵٦ سلنه یې بېکاره شوي[3] په قانوني توګه د معادنو ایستلو سره به دغه کسان د عزتمند کسب څښتنان شي. افغان دولت تر اوسه د معدني موادو د خپل سري قاچاق مخه نه ده ډب کړې، غیر قانوني ایستل کېږي او بهر ته وړل کېږي.

## کرونا او د کندهار پر عامه روغتیا یې اغېزې

د کندهار خلکو د کرونا د خپرېدو په لومړیو کې قرنطین مراعات نه کړ، له همدې امله ډېر په ویروس ککړ شول. کله چې دولت قرنطین وضع کوي، په وړیا ډول خوراکي او اړین توکي خپلو خلکو ته تیاروي. په افغانستان کې په داسې حال کې چې ۷۰ سلنه خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، د دولت لخوا په ښه ډول مرسته نه ورسره کېږي.

که د کرونا بحران پای ته ونه رسېږي او دولت او موسیسې پلان او برنامه ونه لري، نو لري به نه وي، چې د فقر او لوږې کچه به له ۵۵ سلنې څخه ۷۵ سلنې ته لوړه شي.[4]

همدارنګه که دولت او نړیوال بنسټونه او موسیسې لاس پکار نشي، نو موږ به د افغانستان د خلکو د لا ناوړه اقتصادي، ټولنیز او صحي حالت شاهدان وو.

## له کرونا وروسته د کندهار د صنعت کارو ښځو حالت

په کندهار کې ښځې د قرنطین پر مهال له زیاتو اقتصادي، روغتیایي، ټولنیزو او نورو ستونزو سره مخ شوې او ټولې صنعت کاره ښځې ډېرې زیانمنې شوې. هغوی روحي، رواني او مالي ستونزې وګاللې. په کندهار کې د کار او صنایعو ریاست، په یوه سروې کې ستونزې ارزیابې کړې او ویل یې، چې هغه به له دولت او موسیسو سره شریکې کړي، څو د صنعت کاره ښځو ستونزې حل شي.[5] د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې؛ ښځې هر اړخیزو همکاریو او ملاتړ ته اړتیا لري او دولت باید د هغوی تولیداتو ته د وېش او خرڅلاو زمینه برابره کړي، څو د صنعت او سوداګرۍ په برخو کې په ځان بسیا شي.

---

۱ رقیه اڅکزۍ د کندهار ولایت د ښځو چارو رییسه
۲ ګل محمد ارین د کندهار ولایت د اقتصاد رییس
۳ https://www.dw.com/fa-af/اتحادیه-کارگران-بیش-از-نیم-جمعیت-واجد-شرایط-کار-افغانستان-بیکارند/a-48563896

۴ ډاکټر احمدالله فیضي د کندهار د عامې روغتیا مرستیال
۵ زهرا ذاهد د کندهار ولایت د کار او صنایع څونې مرستیاله

## پایله:

بشر د تاریخ په اوږدو کې له ګڼو بحرانونو سره مخ شوی، جګړه، کډوالي، اقلیمي بدلون او ساري ناروغۍ يې ښکاره بېلګې دي. په ۲۱مه پیړۍ کې ډول ډول ساري ناروغۍ خپرې شوې دي. انفلونزیا او کوویډ-۱۹هغه ناروغۍ دي، چې د نړۍ پام یې ځانته را اړولی دی. د روغتیا نړیوال سازمان دغه ناروغي کوویډ-۱۹ نومولې، چې لنډ نوم یې (Corona virus disease of 2019) دی. له کرونا مخکې جوستنین طاعون، تور طاعون، هسپانوي انفلونزیا، اسیایي انفلونزیا، ایډز او خوګي انفلونزیا میلیونونه انسانان د مرګ کندې ته ورغورځولي دي. دا په داسې حال کې ده، چې کرونا ویروس په چټکۍ خپرېږي له همدې امله یې نړیوال حیران کړي او د هغوی ژوند یې له ستونزو او ناوړه پایلو سره مخ کړی دی. په لومړیو کې نړیوال په دې آند وو، چې دغه ویروس په لابراتوار کې جوړ شوی؛ خو د ویروسونو او جنتیک پېژندنې کارپوهان وایي، چې کرونا ویروس په طبیعي ډول رامنځته شوی دی. هغوی په دې باور دي، چې د بشر په لاس جوړ شوي ویروسونه، په لابراتوار کې په اسانۍ د ویروس د ملا له تیر څخه پېژندل کېدای شي. [1]

کرونا ویروس د خپل وژونکي او خپرېدونکي خاصیت له امله، له یوه کاله په کمه موده کې نړۍ له پراخه اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو، صحي او ګڼو نورو بحرانونو سره مخ کړه. دغه کوچني او مایکروسکوپي موجود، نړۍ له ټولو پرمختګونو سره سره تر پوښتنې لاندې راوسته او ځواکمن دولتونه یې په ګونډو کړل، خو داسې دولتونه هم وو، چې په غوره مدیریت او رهبرۍ سره یې تر یوې کچې یاد بحران کنټرول او پر ستونزو بر لاسي شول.

افغانستان هم له کرونا ویروس سره مبارزه وکړه او د مخنیوي په موخه یې قرنطین وضع کړ. د افغانستان خلک چې ډېری کسبه کار او ورځني کارګر دي د قرنطین په وضع کولو سره د هغوی اقتصادي ستونزې، څو برابره شوې. افغانان د کرونا په پرتله له فقر، بېکارۍ، لوږې او اړوند ناروغیو څخه ډېر زیانمن شول. افغان دولت غنم او وروسته وچه ډوډۍ ووېشله، خو دغه پروسه هم د فساد ښکار شوه او ستونزه په اساسي ډول حل نه شوه.

د سلګونو ښوونځیو، پوهنتونو، فابریکو او نهادونو فعالیتونه ودرېدل او زرګونه کسان بېکاره شول، چې له دې سره خصوصي سکټور ډېر زیان ولید. د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی لوړ شو او د افغانستان خلک له ټولنیز بحران سره لاس او ګرېوان شول. همدارنګه د فقر، بېکارۍ، لوږې او رواني فشارونو له امله جنایي جرمونه زیات شول. افغان دولت د اقتصادي کمزورتیا، فساد او ځانګړو شویو پیسو د ناوړه مدیریت له امله ونه شوای کړی، چې د خلکو لاسنیوی وکړي، خو ځینې اقتصادي او ټولنیزې ستونزې یې کمې کړې. هغه څه چې په دغه راپور کې د سروې ګانو او خبرو له لارې راغلي دا دي، چې افغان دولت باید بنیادي او اوږد مهاله کسبونه، د صنعت او تولید په برخو کې له کافي عایداتو سره خلکو ته چمتو کړي. همدارنګه له هغه ځایه چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی، دولت د کرنې د عصري کولو، د کرنیزو توکو کرل، ټولولو او پروسس له لارې خلک د ډېرو او باثباته عایداتو د تر لاسه کولو لپاره پانګونه وکړي، څو خلک لکه د کرونا ویروس پر مهال خپلې اړتیاوې پخپله پوره کړي. همدارنګه دولت د اقتصاد د پرمختګ په پار د افغاني تولیداتو وېش او مصرف ته په سیمه ییزو مارکېټونو کې زمینه برابره کړي، څو افغانستان د وخت په تېرېدو له وارداتي هېواد څخه په صادراتي هېواد بدل شي او بیا د دې هیله پیداکېږي، چې د افغانستان بې ثباته اقتصاد، ثبات پیداکړي او پرمختللی شي.

کرونا د افغانستان د پوهنې سیستم ته هم ضربه ورسوله او د قرنطین په موده کې څه کم ۹ میلیونه زده کونکي د ښوونې له نعمته بې برخې شول. دولت په دغه برخه کې زده کوونکو ته له لرې لارې (انلاین) د پوهنې خدمتونه چمتو کړل، خو د پلازمېنې په ګډون په څو ولایتونو کې، د ټول شموله انټرنټ نشت، دغه پروسه له ستونزو سره مخ کړه. دولت په دغه برخه کې باید د ټولو ولایتونو

۱ Nature د طبیعي علومو مجله

لپاره د چټک انټرنېټ زمينه برابره کړي. الکترونيکي حکومتولي او ځواکمن ډيجيټالي جوړښتونه په ځانګړي ډول په ولايتونو او لرې ولسواليو کې، کولی شي تر يوه بريده د کرونا له امله ستونزې او بې نظمۍ حل کړي. دا په داسې حال کې ده چې د ښوونې او روزنې وزارت اعلان کړی، چې د يخو سيمو کلنۍ آزموينې به په ۱۴۰۰ لمريز کال کې اخيستل کېږي. که ټول شموله، چټک او ارزانه انټرنېټ د زده کوونکو په واک کې وای، نو وخت نه ضايع کېده او دغې ستونزې تر يوې کچې د حل لاره لرله.

د کرونا له امله ټولنيز بحران هم د افغانستان د خلکو ستونزې ډېرې کړې او اساسي لاملونه يې، فقر، بېکاري او لوږه ويل شوې ده. که دولت په دغه برخه کې ټولنيزې ستونزې حل او لاملونه يې له منځه يوسي، نو په هېواد کې دغه ستونزه هم حل کېږي او د دې لپاره عامه پوهاوی ډېر ګټور دی.

په يوه هېواد کې اقتصاد هغه وخت له منځه ځي، چې راکړه ورکړه نه وي. په دې صورت کې پيسې په دوران کې نه وي او د يوه هېواد اقتصاد له رکود سره مخ کوي. د ګڼو لاملونو له امله په هېواد کې د قرنطين پر مهال راکړه ورکړه راټيټه شوه او د همدې لپاره په ولاياتو کې عايدات ورځ په ورځ راټيټېدل. په داسې مواردو کې د راکړې ورکړې لپاره انلاين سوداګري غوره بديل ده او په افغانستان کې بايد ډېر رواج ومومي او په پرمختللې توګه بايد ګټه ترې واخيستل شي.

په داسې حال کې چې په دې ورستيو کې، په افغانستان کې د کرونا ويروس پېښې يو ځل بيا مخ پر لوړېدو دي او هره ورځ يې د قربانيانو نوې شمېرې خپرېږي. ډېری اروپايي هېوادونه يو ځل بيا قرنطين شول او ايران هم تازه اعلان کړی، چې د کرونا د دويمې څپې د مخنيوي په پار سخت قرنطين وضع کوي. له دې سره په افغانستان کې د کرونا ويروس د دويمې څپې راتګ به يو ځل بيا، افغانستان له بحران او نويو غمېزو سره مخ کړي. که دا ځل له تېرو تجربو ګټه وانخيستل شي، نو خلک به ډېر زيانمن شي، ځکه د يخنۍ فصل په رارسېدو دی او د راپورونه له مخې د افغانستان خلک سخت او بې مخينې ژمی په مخ کې لري. د ژمي يخني بله ستونزه ده، چې د پورته بحرانونو زغمل سختوي. په دې برخه کې دولت او موسيسات بايد اړمنو ته د ژمي جامې، خوراکي او صحي توکي ووېشي. که هېواد بيا د کرونا د دويمې څپې له امله قرنطين شي او له زيانمنو سره مرستې ونه شي، نو په افغانستان کې د انساني ناورين امکان شته. د افغانستان خلک د فقر، بېکارۍ، بې ثباته او په وارداتو ولاړ اقتصاد له امله، تر ټولو ډېر له خطر سره مخ دي. په لومړي سر کې دولت بايد د نړيوالې ټولنې مرستې په اړمنو کسانو منظمې ووېشي او دغه پروسه بايد کورنۍ او بهرنۍ موسيسې وڅاري؛ څو د فساد کوونکو لاس لنډ شي او خلک په رښتيني توګه له نړيوالو مرستو برخمن شي. که دولتي او خصوصي مامورين رخصتېږي، نو بايد تنخوا يې ورکړل شي، څو له ډېرو ستونزو سره مخ نه شي. د کرونا په لومړني موج کې ډېری کارګرانو خپل کسبونه او تنخوا له لاسه ورکړي و، له همدې امله ټولنيزې او کورنۍ ستونزې ډېرې شوې. همدارنګه له هغو پولو او بندرونو څخه، چې هېواد ته خوراکي توکي دننه کېږي، بايد د سوداګرو پر مخ پرانېستي وي، څو د لومړنيو توکو بيه بيا لوړه نه شي. له هغه ځايه چې په افغانستان کې آزاد بازار پلی کېږي، په دا ډول بېړنيو حالاتو کې دولت اړ دی، چې بيې کنټرول کړي. يا خپله دولت لومړني او اړين توکي وارد او په ارزانه بيه يې خلکو ته ورکړي، څو سوداګر خپله بيه ټيټه کړي. د يادونې ده، چې په ژمي کې د سالنګ لاره، چې ډېری لومړني مواد له هغه ځايه راتېرېږي، د واورې ښوېدنې او باران له امله تړل کېږي او په ښارونو کې بيې هم ورسره لوړېږي. دولت د دغه حالت د کنټرول او مخنيوي په موخه بايد لومړني مواد په ګدامونو کې ذخيره کړي، څو د بېړنيو حالاتو پر مهال يې ووېشي او د خلکو په واک کې ورکړل شي. که داسې وشي سوداګر احتکار نه شي کولی. همدارنګه په هېواد کې د کورنيو توليداتو د خرڅلاو په موخه له انلاين بازاره دې کار واخيستل شي، چې توليد کوونکي له اقتصادي رکود سره مخ نه شي او د خلکو اړتياوې هم پوره شي.

Imprint
© 2020 Friedrich-Ebert-Stiftung Afghanistan Office
Kabul, Afghanistan

T +93 (0) 700280441
www.fes-afghanistan.org
Friedrich-Ebert-Stiftung Afghanistan

To order publication:
info@fes-afghanistan.org

Commercial use of all media published by the Friedrich-Ebert-Stiftung (FES) is not permitted without the written consent of the FES.

**راپورټران:**

**محمد طارق صابر**
د افغانستان د پوهنتونو د ورزشي فدراسیون د نشراتو مسوول او د ورزشکارو محصلینو د مهالنۍ مدیر مسوول

**عاطفه غفوري**
په لویدیځو ولایتونو کې د افغان خبریالانو د مصونیت کمېټې د ښځو برخې مسووله

**احمد فهیم حقبین**
په بلخ کې د ژورنالېستانو د ملي اتحادیې مسوول

**عادله رهنورد**
د بامیانو د خانه فرهنگ وهنر فرهنگي کمېټې مسووله

**حافظ بخت محمد ځلمی**
په قندهار کې ازاد ژورنالېست

په دغه رساله کې راغلي نظریات، د فریدریش ایبرت بنسټ شخصي نظریات نه دي.

فریدریش ایبرت بنسټ په ۲۰۰۲م، کې په دې موخه چې د ډیموکراتیکو بنسټونو او مدني ټولنو ملاتړ وکړي، په کابل ـ افغانستان کې یې فعالیتونو پیل کړي دي. د دغه بنسټ ډېری فعالیتونه د غیر دولتي، محلي او اړوندو دولتي بنسټونو په ملاتړ، له بېلا بېلو لارو لکه؛ سمینارونو، پوهنیزو ورکشاپونو، گردیو مېزونو او خپرونو له لارې تر سره کېږي. په ځانگړي ډول په لاندې موضوعاتو کې یې د افکارو په تبادلې او بحثونو تمرکز کړی دی: ځوانان او سیاست، په سیاست کې د ښځو گډون او د جنسیت جریانونه، بدلون تضاد او سوله، رسنۍ او د بیان ازادي، د مدني ټولنې ځواکمنول، پارلمان او سیاسي حزبونه. همدارنگه دغه بنسټ د پلاوو، پوهانو، محصلینو او لوړ پوړو ورځپاڼه لیکونکو د نظریاتو له تبادلې ملاتړ کوي او همدارنگه په سیمه او د نړی په گوټ گوټ کې د نړیوالو خبرو اترو تر شا ولاړ دی.